**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د امریکا له لوري د دوو-دولتونو کرکجنه حللاره یوازې د فلسطین د خلکو پر وړاندې د صهیونیستي جنایتونو مشروعیت او دوام دی

**خبر:**

په غزه کې د نسل‌وژنې له زیاتېدو سره؛ د امریکا، نورو غربي هېوادونو، اروپايي اتحادیې، ملګرو ملتونو او د اسلامي خاورو حکامو له لوري شدیدې غوښتنې کېږي چې د فلسطین لپاره د دوو-دولتونو حللارې د پلې کولو لپاره دې هڅې زیاتې شي. د روانې جنوري میاشتې په ٦مه د اروپايي اتحادیې د بهرنۍ پالیسۍ مسول، بیروت ته د خپل سفر پر مهال وویل چې دی غواړي د سولې پروسې لپاره یو اروپايي-عربي نوښت پیل کړي چې پایله یې د اسرایلو-فلسطین د شخړې د حل لپاره د دوو-دولتونو حللاره وي. ده وویل: *«اوس د دې وخت دی چې موږ د دوو-دولتونو نظر عملي کړو؛ که نه نو تاوتریخوالی به نسل په نسل روان وي؛ ځکه چې فکر وژل کېږي نه».* منځني ختیځ ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، انتوني بلېنکین د سفر پر مهال، هغه له خپل اردني سیال، أیمن الصفدي سره وکتل او پر یوه راتلونکې سناریو یې بحث وکړ چې لوېدیځه غاړه او غزه به یو ځای د اسرایلیانو او فلسطینیانو لپاره د دوو-دولتونو حللارې د اساس په توګه نیسي.

**تبصره:**

د فلسطین لپاره د دوو-دولتونو پوچه او تش په نامه حللاره له لسیزو راهیسې د غربي دولتونو او په اسلامي خاورو کې د هغوی غلامو رژیمونو لخوا په دغې خاوره کې د سولې، ثبات او عدالت ټینګښت د یوازینۍ لارې په توګه وړاندې کېږي. په حقیقت کې، دا حللاره د صهیونیستي اشغال د دوام او لا پیاوړي کېدو وسیله ده. په ۲۰۲۴ کې د امریکا د ټولټاکنو یوه نوماند، رابرټ اف کېنېډي جونیور په یوه مرکه کې ویلي: *«اسرایل زموږ لپاره یو سنګر دی... دا داسې دی لکه په منځني ختیځ کې چې الوتکې وړونکې بېړۍ ولري. اسرایل زموږ تر ټولو پخوانی متحد دی. که اسرایل ورک شي؛ روسیه، چین او بریکس (BRICS+) هېوادونه به د نړۍ د ۹۰ سلنه نفتو کنټرول واخلي او دا به د امریکا د ملي امنیت لپاره یوه فاجعه وي».* ښکاره ده چې صهیونیستې اداره په اسلامي خاورو کې د امریکايي اشغال وفادار ساتونکی دی. ځکه خو د سیمې لپاره هره امریکايي حللاره د امریکا او هغې د صهیونیستي اډې په ګټه ده او د فلسطین د مسلمانانو لپاره هېڅ خیر پکې نشته.

پر دې سربېره، د دوو دولتونو حللاره څنګه عادلانه کېدی شي چې وایي فلسطیني دولت دې د ۱۹٦٧ پولو له مخې جوړ شي؛ یعنې صهیونیستي ادارې ته دې د فلسطین تاریخي خاورې ۸۰ سلنه ورکړل شي او له فلسطین

سره د یوازې پینځمه برخه خاوره پاتې شي؟ دا څنګه عادلانه ده چې غله ته اجازه ورکوي چې غلا کړی مال له ځان سره وساتي او دومره وحشتونو، د ځمکو غصب، په بلډوزر د کورونو ویجاړولو، ټولوژنې، له خپلې خاورې د خلکو قومي پاکولو او نورو غرونو غرونو ظلمونو او جنایتونو ته یې مشروعیت ورکوي؟ یهودي اشغالګرو دا ټول وحشتونه وکړل او دا سپېڅلې خاوره یې په زور او ظلم نیولې. دا خو داسې ده لکه صهیونیستانو ته چې د فلسطین د خلکو پر وړاندې د تېریو، نسل‌وژنو او نورو بې شمېره ترهګریزو کړنو په بدل کې جایزه ورکوي. یو خبریال وایي – غربي لیبرال قدرتونو د «دوو دولتونو» حللاره رامنځته کړه چې *«په خپلو مرداریو (د پاکولو پر ځای) پرده واچوي»* او یوه مرداري په بله پاکوي.

پر دې سربېره، دا تش په نامه فلسطیني دولت به څومره د دوام وړ وي؟ فلسطین او ټول مقاومت کوونکي خوځښتونه به یې خلع سلاح کړي؛ له دې سره که په راتلونکي کې صهیونیستان نور بریدونه کوي او نورې ځمکې یې نیسي؛ د ځان د دفاع هېڅ توان به نه لري. د تېر کال په فبروري کې د صهیونیستي ادارې مشر، بنیامین نتنیاهو په یوه مرکه کې وویل چې راتلونکی فلسطیني دولت باید د خپل امنیت ساتلو کنټرول اسرایلو ته ورکړي او تایید یې کړه چې دا *«بشپړ حاکمیت نه و»*. په حقیقت کې به دا دولت هېڅ حاکمیت نه لري؛ پر خپلو پولو، فضا، پوځ یا اقتصاد به کنټرول نه لري؛ داسې یو دولت چې هېڅ واقعي سرچینې به نه لري او د خپلې بقا لپاره به په صهیونیستي اداره پورې تړلی وي. دا به نو څنګه دولت وي!!؟ د دې ترڅنګ، په لوېدیځه غاړه کې تر ٦ لکو زیات یهود مېشت شوي؛ لسګونه ښارګوټي یې دي چې ځینې یې د یوه ښار پشان خپل ښوونځي، روغتونونه او پوهنتونونه لري؛ له دې سره د یوه فلسطیني دولت جوړول عملاً ناشوني کېږي. ځکه خو د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو پخوانی کمېشنر، کریګ موخیبر د دوو دولتونو حللارې په اړه وایي: *«دا هم د ناممکنوالي او هم د فلسطین د خلکو بشري حقونو-چې انکار نه ترې کېږي- ته د ځواب ویلو وړتیا نه لرلو له اړخه د ملګرو ملتونو په دهلیزونو کې یوه ټوکه وه»*.

په پای کې، د فلسطین په خاوره کې د یوه فلسطیني دولت جوړول له صهیونیستي فلسفې سره په بشپړ ټکر کې ده؛ ځکه دوی باور لري چې باید د فلسطین پر ټوله خاوره کنټرول ترلاسه کړي او خپل تش په نامه «یهودي هېواد» جوړ کي. په ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰مو کلونو کې د امریکا ولسمشر، هري ټرومن هغه وخت په یوه ویډیو کې ویلي: *«صهیونیستانو د هر اقدام مخالفت کاوه؛ دوی یوازې غوښتل چې ټول فلسطین د دوی شي... دا نه شي کېدی. دا کار مو باید په تدریج او ورو ورو کړی وی...»*. د یهودي اشغالګرو د ارتباطاتو وزیر، شلومو کهري په ډسمبر کې وویل: *«دلته به د فلسطیني دولت په نامه څه نه وي. موږ به هڅکله اجازه ور نه کړو چې د اردون او (مدیترانې) سمندر ترمنځ کوم بل هېواد جوړ شي»*؛ دا د لیکوډ (یا لیکوډ لېبرال ملي خوځښت چې د اسرایلو یو لوی ښي اړخی سیاسي ګوند دی) د منشور د خبرو تکرار و. نتنیاهو په تېر سپټمبر کې د ملګرو ملتونو عمومي

غونډې ته د خبرو پر مهال د منځني ختیځ یوه نقشه وښوده چې اسرایلو ټول فلسطین پکې نیولی. ښکاره ده چې صهیونیستي اداره د فلسطین پر ټوله خاوره کنټرول غواړي.

د تش په نامه دوو دولتونو حللاره یوازې د فلسطین خلکو ته سپکاوی دی. له دې سره دوی یهودي اشغالګرو ته سپارل کېږي چې د هغوی تر حاکمیت لاندې ژوند وکړي او د دغو جنایتکارو د غوښتنو تابع وي. دا له الله سبحانه و تعالی، پیغمبر صلي الله علیه وسلم او مومنانو سره خیانت دی؛ الله سبحانه و تعالی د فلسطین ټوله خاوره سپېڅلې کړې، د راشده خلفاوو پر وخت د اسلام تر حاکمیت لاندې راغلې او پېړۍ پېړۍ د اسلام تر حاکمیت لاندې وه. د شریعت له مخې د فلسطین ټوله سپېڅلې خاوره تر قیامته د مسلمانانو ده. یوه لوېشت یې هم باید چاته ور نه کړل شي! بلکې باید د اسلامي پوځونو له لوري ازاده شي او د نبوت پر منهج خلافت تر سیوري لاندې اسلام پکې حاکم وي. له دې پرته به دلته زموږ د خویندو او وروڼو ټولوژنه او د هغوی پر وړاندې جنایتونه روان وي! الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ»** [انفال: ۲۷]

**ژباړه:** *«ای مؤمنانو! د خپلو کړنو پر عاقبت له پوهېدلو سره سره له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره خیانت او په خپلو امانتونو (مقام، ځای، واک او امکاناتو) کې تېګي خیانت مه کوئ».*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**